AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۳/۰۸/۲۴

# د لومړی نړیوالي جګړې د هډوکو ژرنده او دوزخ

سرېزه:
دلته بشريت ليونی شوي دی، دلته څه يو عام قتل ترسره شوي دی، دې وحشتونو، وژنو او دې خونړيو جنايتونو بيانولو لپاره اصلاً سړی کلمات نه شي موندلي، حتی بڼايې دورخ دومره خطرناکه نه وي. دا هغه کلمات يا ټکې دي، چې يوه ځوان فرانسوي ډګرمن الفريد جوبير د لومړی نړيوالې جګړې د تشريح کولو لپاره کارولي دي. له دې وينا ورسته نوموړي ډګرمن په يوه اوونۍ کې د شاوخوا سلګونو زرو سرتيرو په خبر کوم، چې په دغه د انسان وژنې قصابخونه کې په ډيره بې رحمۍ سره ووژلي شوي دي، نوموړي هم خپل ژوند له لاسه ورکړ. د لومړی نړيوالې جګړې تر ټولو شديده جګړه د جرمنيانو او فرانسويانو ترمنځ د فرانسي د وېرډون په سېمه کې پېښه شوي ده.



د وېرډون سېمه د پاريس ختيځ لوري ته په 260 کيلو متري کې پرته ده. لومړی نړيواله جګړه کې د فرانسې په دغه سېمه کې د جرمنيانو او فرانسويانو ترمنخ سختې درې سوه ورځې خونړۍ جګړې ترسره شوي دي. د ويردون جګړې يو ژوندی پاتې شوي ويټران سرتيری ليکي: که څوک ويرډون ته نه وی تللي، هغه په جګړې کې نه و.

ما ليکوال په خپله له دغې تاريخي سېمې، د وېرډون له وينو پمپ او د جګړې له وينو ډک ډګر څخه 107 کاله ورسته له نږدې ليدنه کړي ده. حتی نن هم د سيمې بزګرانو په کروندو کې هډوکې او د وسلو اوسپينيزې ټوټې مومي. ما د دې وحشي خونړۍ جګړې او د ويرډون دوزخ په اړه له ټولو تاريخي موزيمونو او اثارو څخه ليدنه او کتنه کړي او په دې اړه دغه څيړنېزه ليکنه ليکلې شوي ده.

د 1914 کال په اوړي کې لومړي نړيواله جګړه پيل شوه او څلور کله يې دوام وکړ. په لومړي نړيواله جګړه کې شاوخوا 70 ميليونو سرتېرو برخه اخيستلې ده. د نړۍ په تاريخ کې دا جګړه لومړنۍ جګړه ځکه ياديږي، چې په لومړي ځل دومره لوی شمېر مجهز پوځونه او هيوادونه د يو بل په وړاندې جنګيدلي. نږدې ټوله نړۍ د دې بېرحمه وحشي جګړې له امله اغيزمنه شوي وه. له همدې امله دې جګړې ته ,, نړيواله جګړه,, ويل کيږي. د لومړي ځل لپاره دومره ډيرو سرتېرو په پرمختللي درنو وسلو لکه ټوپونو، ماشېنګنېو، زهرجنو ګازو، هوايې بريدونو، بم غورځولو، اوبتلونو او نورو پوځي وسايلو سره د يو بل د محوه کولو لپاره په دغه له وينو ډکه تخته کې جګړې کړي دي. لومړۍ نړيوالې جګړې نړۍ ته ډير سخت ټکانونه او ستر زيانونه واړولي دي او ميليونونه ملکيان په کې وژلي شوي.

په 1916 کال کې د فبرورۍ په 21 مه نېټه د جرمني وسله وال پوځ بريد د جرمني امپراتورۍ وسله والو ځواکونو د پينځم نمبر لښکر قوماندان د امپراتور دويم ويليهم زوی او وليهد لخوا پيل شو. د جرمني پينځم نمبر پوځ د 1500 توپونه او له درنو وسلو سره په فرانسوي پوځيانو خپل طوفاني بريد پيل کړ. په دې موخه چې د فرانسې وسله وال پوځ دفاعي کربښې ورماتې کړي او د خپلو پلې ځواکونو په مټ ورمارش شي، څو ځانونه پاريس ښار ته ورسوي او په څو اوونيو کې د ټولې فرانسي فوري نيولو ورسته ځان تزاري روسيي په وړاندې بلې ستړې جګړې ته چمتو کړي.

لومړی نړيوالې جګړه ولې پېښه شوه.؟
هغمهال د نړۍ نقشه له نننۍ نقشې سره لږ توپير درلود، ځکه په اروپا کې د نن ورځې په پرتله دومره ډير هيوادونه او خپلواک دولتونو شتون نه درلود، خو لوی لوی هيوادونو شتون درلود. د اروپا لوی هيوادونه لکه د جرمني امپراتورۍ،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لویه بریتانیا، فرانسه، اتریش - هنګري امپراتورۍ غوښتلو، څو د نورو هیوادونو او دولتونو په پرتله لا نوره ډیر ځواکمن، شتمن او په نړیوال سیاست کې له ډیر اغېزه برخمن واوسي. هغمهال په اروپا کې په ربښتېنې مانا سره د ډېر واک او ځواک ترلاسه کولو لپاره یوه توده امپریالیستي مبارزه روانه وه. په ځانګړې توګه جرمنیانو د خپلو ګاونډیانو له لورې محاصره شوي ول. د نیول کیدلو او د ګاونډیانو لخوا د پوځي برید ګواښ یې محسوسوه. دا مهال په ټوله نړۍ کې سیاسي وضعیت د باروټو یو انبار یا ګدام ته ورته ښکاریده. په داسي یو خورا ګواښمن کړکیچن سیاسي پیچلي حالت کې یوه مهمه سیاسي وژنې ترسره شوه.

په 1914 کال د جون په 28 مه نېټه د اتریش ولیعد فرانس فرډیناند او میرمن یې سوفي د بوسنیا پلازمېنې سراجیوو په ښار کې د یوه نولس کلن ملتپال صربې محصل ګاوریلو پرینسپ لخوا ووژل شول. دا مهال دغه ښار د اتریش-هنګري امپراتورۍ یوه برخه و. دغه وژنه د اور هغه یوه سپرغۍ وه، چې په اروپا کې د باروټو ګدام چاودنې لامل وګرځیدله. دې وژنې د اتریش او هنګري مشرانو ته یوه ډېره ښه پلمه جوړه کړه، څو د صربستان په وړاندې د جګړې اعلان وکړي. همدارنګه د جرمني امپراتورۍ پوځي مشرتابه اتریش او هنګري مشران دې ته وهڅول، څو د صربستان په وړاندې په پوځي اقدام لاس پوري کړي. په ویانا کې د اتریش وسله وال پوځ د صربستان په وړاندې د چټک غچ اخیستلو برید لپاره پر اتریشي مشرانو فشار راوړي وو. د جرمني امپراتورۍ امپراتور دویم ویلیم د اتریش او هنګري سلطنت سره د نامحدودو مرستو، اتحاد، وفادارۍ ډاډ اعلان ورکړ.

په 28 د جولاې اتریش- هنګري د صربستان په وړاندې جګړه اعلان کړه. هممهال ترازي روسیه هم خپل وسله وال پوځ ته د تیار شئ امر ورکړ او تزاري روسیې خپل سلاویک ورور ولس مرستې ته وروډانګل، له دې سره د جګړې برخلیک او مسیر خپله لاره ونیوله. د جولاې په 30 مه نېټه روسیه د اتریش- هنګري په وړاندې د جګړې اعلان وکړ.



په 1914 کال د اګېسټ په لومړۍ نېټه د جرمني امپراتورۍ د ترازي روسیې په وړاندې د جګړې اعلان وکړ. د جرمنیانو له لورې لومړۍ نړیواله جګړه د اګېست په دویمه نېټه پر لوکزامبورګ او د اګېست په دریمه نېټه پر بلجیم باندې د جرمني سرتېرو له لورۍ یرغلیزه برید پیل شو. د لومړۍ نړیوالې جګړې لپاره چمتووالی د 1914 کال د جون میاشتې مخکې په بشپړ ډول نیولي شوي و. ډیرو هیوادونو مخکې له مخکې له یو بل سره خبرې او معاملې کړې وې او اتحادونه یې جوړ کړي وو، څو د جګړې په صورت کې د یو بل سره د متقابلې پوځي مرستې او همکاري وکړي. په 1914 کال کې اروپا په دوو متضادو بلاکونو ویشلي شوې وه.

لومړي نړیواله جګړه کې چا له چا سره جګړه کوله. ؟.

نړیواله جګړه د 1914 څخه تر 1918 کلونو پورې دوام وکړ. د لومړۍ نړیوالې جګړې په پیل کې یوازې اروپایې هیوادونه د یو بل په وړانډې جنګیدل. د دې جګړې اصلي لامل د اتریش -هنګري سلطنت د ولیعد وژل کیدل ګڼل کیږي. په 1914 کال کې د اګېسټ په لومړۍ نېټه د جرمني امپراتورۍ د تزاري روسي امپراتورۍ پر وړاندې د جګړې اعلان وکړ. په دې جګړه کې د مرکزي ځواک په نامه د جرمني امپراتوري، د اتریش- هنګري سلطنت شامل وو، چې ورسته له دوی سره عثماني امپراتوري او د بلغاریا شاهي دولت هم یو ځای شول. د دوی په مقابله کې فرانسه، بریتانیا او روسیه ودریدل، نور هیوادونه لکه ایټالیه، جاپان، امریکا او د بریتانیا امپراتورۍ او د فرانسې کولوني هیوادونه یو په بل پسې ورو ورو ورسره یو ځای شول.

جرمني امپراتورۍ، اتریش-هنګري او عثماني امپراتورۍ یا اوسني ترکیه د مرکزي ځواک یا متحدینو په نامه یاد شول. د متفقینو په وړاندې یې په ګډه جګړه پیل کړه. متفقین فرانسه، لویه بریتانیا، روسیه، ایټالیا او ورسته د امریکا متحده ایالات هم ورګډ شول. د لومړي جګړې په بهیر او پرمختګ کې ورو ورو ډیر نور هیوادونه د متفقینو سره یو ځای شول. د لومړي نړیوالې جګړې په ځانګړي توګه په ختیځ او لویدیځ جبهو کې ډیرې سختې جګړې او نښتې ونښتلي. په جبهي جګړو کې د جبهې کرښه یا د جنګ محاذ کرښه د مخالفینو ترمنځ سرحدي پولې وې. په همدې پولو کې مخالف سرتېرې د یو بل پر وړاندې مخامخ کیدل او جنګیدل. د روسیې سره پولې ته نږدې ختېځه جبهه د بالټیک سمندرګۍ څخه تر تورې بهیرې پورې غځیدلي وه. همدلته جرمنیان او روسان یو بل په وړاندې مخامخ جنګیدل. د لویدیځې جبهې کرښه د بلجیم او د فرانسې په خاوره کې تیریدله. دلته هم جرمني سرتیرو د متفقینو د ګډو ځواکونو په وړاندې جنګیدل، د متفقینو ډیرۍ سرتېرې فرانسویان او برتانویان ول.

جرمني پوځیانو د ستر جنرال هیریک فالکنهین تر قوماندې لاندې غوښتلو، د فرانسویانو وینه ښه ډیره وبهیږي او ښه یې کمزورۍ کړي. څو فرانسویان خپل ټول جنګې توان او وسایل د ویرډون سېمې په دفاع کې وکاروي. د 1916 کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په 21 نېټه جرمنیانو د خپل پینځم نمبر لښکر او د جرمني برنډنبورګ پلي ځواک او لښکر لخوا په فرانسویانو باندې د وېرډون په ستراتیجکه سېمه کې په سمبټي کانکریټي مستحکمي جنګي کلا باندې یرغلېزه برید پیل کړ.
په 1916 کال کې په لومړۍ نړیواله جګړه کې د وېرډون جګړه د جرمني امپراتورۍ او د فرانسې ترمنځ جګړه چې ځومره سخته خونړۍ او ظالمانه وه. هغومره په شددت سره یوه پوښتنه راولاړوي، چې دا جګړه څنګه رامنځته شوه او ولې د جرمني د وسله وال پوځ سر قوماندان د فرانسې په وېرډون سېمه کې د داسې یو طوفاني برید پرېکړه وکړه.؟ ولې په دې لس میاشتېنې جګړه کې ډېر لږ پرمختګ وشو او په پای کې بیا هم هیڅ یو لورۍ ګټونکي اعلان نه شو.؟
په 1916 کال کې د فبرورۍ په میاشت کې د فرانسې په وېرډون سیمه کې د جرمني یرغلېزه برید پیل شو. څو د فرانسویانو د جګړې اراده ماته کړي، فرانسویان په پوځي ډګر کې په ګونډو کړي او د لومړۍ نړیوالې جګړې برخلیک همدلته وټاکل شي. د ویرډون جګړې ډګر شاوخوا شل کیلومتره مساحت لري. دلته پنځوس میلیونه بمونه او د توپ ګولې وویشتلې شوې دي. یوازې د جرمني وسله والو ځواکونو لخوا 26 میلیونه لاسي بمونه او د توپ ګولې ډزولې شوې دي، 100 000 زهرجن بمونه او اور شیندونکي وسلې په دې وړه کوشنۍ سېمه یا د وینو ډکه تخته کې کارول شوې دي. فرانسویانو 23 میلیونه توغندي ویشتلي او توپچي ډزې کړي دي. د شمیرو له مخکې په یوه دقیقه کې له پنځوس ډېرې ډزې شوې دي. دا په دې مانا چې په هر متر مربع کې له دوو ډېر د توپ کولیو ډزې لګیدلي دي. دلته د اسمانه د فولادو او باروټو یو تندر لګیدلي و. د ویرډون شاوخوا ټوله سېمه د قمري میاشت سیارې په منظره بدله شوې و. ټول کلي یې په ځمکه کېنولې شوي او له خاور ایرې سره برابر کړل شوي وو. شاوخوا 50 ټنه فولادي ټوټې لاهم د جګړې په هر هکتار کې پرې دي. دا په هر متر مربع کې پېنځه کیلو ګرامه سره سمون خوري. جرمنیانو او فرانسویانو دلته څښت دیر سرتېرې ځای پر ځای کړي وو. 75 فرانسوي فرقې، چې ټول 377 000 نارینه سرتېرې ول، د جرمني 50 فرقې چې ټول 337 000 جرمني سرتېرو سره مخامخ شول. فرانسویانو په چټکۍ سره خپل سرتېرې بدلول، دوی د بدلو سیستم له لپارې د تولو سرتېرو 70 سلنه څخه ډېر لږ تر لږه یو ځل د اتو څخه تر لسو ورځو پورې د ورېرډون په جګړه کې بدلول. د فرانسوي سرتیرو جګړیز مورال تر جرمني سرتیرو ډېر لوړ و، ځکه جرمني سرتېرو ډېرې وختونه باید د جګړې په لومړیو کرښو کې د بشپړې ستړې ستومانتیا ته انتظار یستلو. په 1916 کال د مۍ میاشتې په پیل کې د ویرډون په جګړه کې د ګمارل شویو جرمني سرتیرو اوسط عمر یوازې ځوارلس ورځې و. جرمني برید د جولای تر یوولسمې پورې دوام وکړ، ورسته له هغې د اکتوبر په میاشت کې فرانسویانو خپل ځوابي برید پیل کړ. په پایله کې فرانسوي پوځیانو ته سخته فزیکي او د رواني ټپونو سره ستره مرګ ژوبله واړول شوه. له همدې امله جرمني او فرانسوي سرتېرې دغه سېمه د وینو ژرنده یا د وېرډون جګړې دوزخ په نامه یادوي. د دې ښار څخه دفاع د فرانسې په تاریخ کې لکه موږ افغانانو ته په ملي تاریخ کې د میوند جګړې د بریا په څیر یو تاریخي سېمبولیک ارزښت او اهمیت لري. فرانسویانو ته د وېرډون سېمه د ملي مقاومت سېمبول ګرځیدلي و.



جرمني د شلیفین پلان له مخې غوښتل په شپږ اوونیو کې د فرانسې لویدیځ کې فرانسوي ځواکونه مات کړي او بیا ختیځه جبهه کې روسیې ته ماتې ورکړي. الفرید فون شلیفین د جرمني پرویشیا ارشد پوځي افسر و، نوموړي بیا ورسته فیلډ مارشال او د جرمني وسله وال ځواکونو د لوی درستېز په توګه هم وګمارل شو.
د جرمني برېد پاریس ته په نږدې کیدو، خو د جرمني د دوو برېدګرو پوځي لښکرو ترمنځ یو واټن یا یو درز راښکاره شو، کوم چې فرانسوي او برتانوي سرتیرو په پېنځم د سپټمبر له همدې پیدا شوي درز څخه ګټه واخیستله او دوی د مارن په سیمې کې د جرمني پوځیانو پرمختګ ودرولو. فرانسویانو نور اضافي سرتېرې مارن ته انتقال کړل. په داسې حال کې چې جرمنیان د روسیې د ناڅاپي چټک پرمختګ څخه ویره لرله، د سپټمبر په نهمه نېټه دفعتآ د جرمني سرتیرو 80 کیلومتره تکتیکي شاتګ وکړ. دغه شاتګ د فرانسویانو لپاره د مارن په جګړه کې یوه معجزه وه. د دې تکتیکي شاتګ سره د شلقین پلان ناکام شو. د جرمنی لوی درستېز هیلموټ فون مولټکی د پلان ناکامیدو سره له عصبي رواني تکلیف سره مخامخ کیږي او په ځای ستر جنرال هېریک فون فالکنهین ټاکل کیږي.
د ویرډون په جګړه کې د ژوندي پاتې شویو په پرتله وژل شوي ډېر ول. دلته ځمکه د مړو سرتیر په جسدونو پوښلې شوې وه، کوم چې په یوه شیبه کې د توغول شوي توغندېو له خوا بیا ښخ کړل شوي پراته وو. ټپیانو ټوله ورځ د بیړنیو مرستو غوښتنه کوله یا د جراحي درملنې غوښتنې نارې سورې وهلې یا د سختو دردونو څخه د خلاصون د یو ورستې مرګونې ډز غوښتنه کوله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د وېرډون د وينو ژرنده او دورخ

د لومړي نړيوالې جګړې تر ټولو خونړۍ جګړه د فرانسي په وېرډون سېمه کې پېښه شوه. شاوخوا 800 000 انسانان د څو سوو مترو ځمکې د نيولو لپاره په سخته بې مانا جګړه کې ووژل شول. تر نن ورځې پورې دا نړيواله جګړه او د وېرډون جګړه د بشريت ضد يوه غير انساني نښه او سېمبول بلل کيږي. په لومړۍ نړيواله جګړه کې د وېرډون جبهې جګړه د يو بيساري خونړۍ ناورين بې مانا، بې پايلې سېمبول ګرځيدلي ده.

په 1914 کال کې د لومړۍ نړيوالې جګړې په پيل کې د جرمني وسله والو ځواکونو يوه هڅه وکړه، چې په لويديځ جبهه کې په يوه چټک پرمختګ کې فرانسوي پوځونه محاصره کړي او سخت وځپي. دغه هڅه ناکامه شوه، د متحدينو او جرمني پوځونه د بلجيم له سواحلو څخه تر سويس پورې 700 کيلومترو په اوږدو کې يو بل ته مخامخ په سنګرونو کې دريدلي وو. د 75 ميلي مېتري درنو ټوپچي ډزو په کارولو سره مخالفينو پر يو بل د طوفاني بريدونو هڅې کولې، تر څو د پلې ځواکونو په مرسته دفاعي کرښې ورماتې کړي. خو د بريد هره يوه هڅه د لويو لويو زيانونو سره ناکاميدله. دواړه بريد ګرې خواوې د يو بل د دفاعي وژونکي ماشينګڼو او توپونو ډزو ته نه شولې تميدلې.

د وېرډون ښار او شاوخوا سيمو منظره يوې کندې کپړې سيارې ته ورته شوې وه. په دغه ښکلې سيمه کې چې کوم کورونه، کوڅې، او زرغون ځنګلونه اباد ول، په ريښتېنې مانا سره له خاورو سره خاورې ايرې شول. جرمني پوځيانو له دوه ميليونو ډېرو توپچي ډزو يا ګوليو ويشتلو ورسته د فرانسويانو پر دفاعي مورچو د پلې ځواکونو طوفاني يرغليزه بريد پيل کړ. دغه سيمه کې کورونه، ښارونه او د طبعيت ښکلې منظرې بيا چا ونه پيژندلې.

د فرانسي د وېرډون ښار جګړه د لومړۍ نړيوالې جګړې تر ټولو مهمه خونړۍ اوږده جګړه وه. د 1916 کال د فبرورۍ په21 مه نېټه د سهار په اوو بجو او پينځلسو دقيقو باندې جرمني د فرانسي پر لويديځه جبهه کې يو شديد بريد پيل کړ. 1500 سترو ټوپونو په منظم ډول له سهاره تر ماښام پينځو بجو پورې د فرانسويانو په دفاعي کرښو باندې ګولې اورولې. لس مياشتې ورسته 000 162 فرانسوي سرتيرې او 000 143 جرمني سرتېرې ووژل شول، خو د جګړې لومړۍ کرښه هيڅ بدله نه شوه او هيڅ ډول پرمختګ او يا شاتګ په کې رامنځته نه شو. فرانسويان په دې وتوانيدل، چې په وېرډون سيمه کې د جرمنيانو مخه د پاريس په لور ونيسي. تاريخپوهان په دې اند دي، چې د وېرډون جګړه يوه غير ضروري جګړه وه، تر نن ورځې پورې دا جګړه يوه تاريخي نه بښونکې خطا ګڼل کيږي.

تر 1916 کال د ډسمبر مياشتې پورې هيڅ يوه اړخ پوځي بريا ترلاسه نه کړه. د پوځي جګړو محاسبو له مخې د وېرډون جګړه کې انسانان د سوون توکي په څير وکارول شول. په 1916 کال په پسرلي کې د جرمني وسله وال پوځ لوی درستيز هيريک فون فلکنهاين تر قوماندې لاندې د فرانسي په خاوره کې د وېرډون په سيمه کې چې فرانسويانو ته يو ځانګړي سېمبوليک ارزښت درلود، د ټينګو پوځي کانکريټي استحکاماتو، د ځمکو لاندې سميټي سمڅو او ټونلو باندې بريد پيل کړ.

د جرمني بريد ګر سرتېري د وېرډون په سيمه کې د فرانسويانو تر ټولو پياوړي پوځي اډه کې له يو شمير دفاعي کمربندونو او له سخت وسله وال مقاومت سره مخامخ شول. د ويرډون ستراتيجکه سيمه 45 کيلو متره مساحت لري. د جرمني بريد ګر وسله وال چټک ځواکونه د قوي توپچي ځواک په ملاتړ د تمې خلاف خورا ورو او پڅ کړل شول. د جګړې له پيليدو څو ورځې ورسته دا څرګنده شوه، چې په دې جګړه کې د بريدګرو سرتيرو او مدافعينو ترمنځ د قربانيانو کچه برابر ده. هره ورځ په دواړو خواوو کې په زرګونه سرتيرې وژل کيدل، د دې بېرحمه سختې جګړې د سرتيرو مرګ ژوبلې سربيره وژل شوي او ټپي شوي سرتېرې په خندقونو کې په غټو، چټليو اوبو او ډندونو کې پراته وو، د تندې، لوږې، د موږګانو او نورو حشراتو خوراک ګرځيدلي وو.

يو جرمن سرتېرې جوزف ميګنوس ويرنر ليکي: ,,موږ د يوې اوسپنيزې کلا د نيولو لپاره ډېره ډېره ګرانه بيه پرې کړه، موږ دواړه خواووې د څو ورځو لپاره قصابان وو او کله چې د جبهې قوماندان او د هغه سرتېرو په وړاندې کومې وسلې چې موږ راپورته کړې وې، زموږ تر څنګه تير شول، ما وليدل، چې فرانسويانو هم د دې اوسپنيزې کلا د دفاع لپاره خورا ګرانه، ډېره ګرانه بيه پرې کړې ده. د دوی په سنګرونو کې د نه زغملو وړ، وژنکې غير انساني حالت شتون درلود. د لوګيو تور ډيوالونه، په هر کونج کې د مړو سرتيرو جسدونه پراته وو، د زخميانو ډک وحشتناکه تياره بيړنې روغتونونه چې په کې د کلورين دارو ګنده بويونه خپاره ول,,. کله چې جرمنيانو د فرانسويانو د اوسپنيزې کلا يوه برخه ونيوله، کلا ته د ورننوتلو سره په تياره کې په سمڅو او تونلونو کې فرانسويانو د ماشينګڼو په ډزو او لاسي بمونو مقاومت کولو، په تيارو کې په يوه دوزخي فضا کې د تن په تن وحشتناکه وژونکې جګړه پيل شوه. جرمنيانو غوښتل د کلا زړه ته چيرې چې په ژوره کنده کې د فرانسويانو د جبهې قوماندان قوماندانې وه، ونيسي. په دريم او څلورم د جون مياشتې د ورځو په اوږدو کې د ځمکې لاندې تن په تن جګړې دوام درلود. جرمنيانو د خپلو اور شيندونکې وسلو وکارولو سره دغه جګره په ريښتيا سره په دوزخ بدله کړې وه، چې اغېزې د ځمکې لاندې په کانکريټي ډيوالونو او تنګو دهلېزونو کې خورا ډېر ويرونکي او هيبتناکه محسوس کيدلو. د ځمکې لاندې د ډزو او د باروټو په لوګيو ککړه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هوا او فضا کې او د اوبو له کمښت سره مخامخ جنګیالیو د څو پر له پیسې ورځو لپاره یو له بل سره تن په تن جګړه کړي. د جون په اوومه نېټه د سهار په شپږو بجو د فرانسویانو یو ګارنیزیون تسلیم شو. جرمني سرتیرو وکولي شول، د ځمکو لاندې په سمڅو کې 65 متره پرمختګ وکړي.
د وېرډون سیمې اراضي ټېټه جګه اراضي وه، چې په کې ګڼ شمېر غونډۍ او کلي شتون درلود. دلته سختې جګړې شوي. د فبرورۍ په 25 مه نېټه د فورټ ډوومونټ سیمه د جرمني سرتیرو تر سختو بریدونو نښتو ورسته ونیوله. په 1916 کال د فبرورۍ په 25 مه نېټه د دې سیمې یوه برخه نیول د جرمني امپراتورۍ لخوا د یوې سترې بریا په توګه ولمانځل شوه، که څه هم دغه سیمه او دغه بریا په پوځي لحاظ بې ارزښته او بې مانا وه. خو د جرمنیانو د خوشالۍ موخه د ویرډون جګړې د برید موخې او بریا په اړه رامنځته شوي شکونه او اندېښنې له منځه وړل وو. د فرانسې حکومت د فورټ ډوومونټ سیمه له لاسه وتلو ورسته د ویرډون سیمې دفاع لپاره یوه نامتو پوځي دفاعي تاکتیکي کارپوه ارکانحرب جنرال هنري فیلیپ پیټېن ته وسپارله. فرانسوي جنرال پیټین له خپلو سرتېرو سمدستي وغوښتل، چې د وېرډون سیمې څخه په کلکه دفاع وکړئ او سر سخت مقاومت وکړئ، ترڅو له ګواښ سره مخ شوي محاذ ته نوي تازه دمه سرتېرې رسیدو وخت ترلاسه کړي. د نویو تازه دمو سرتیرو په رسیدو او تقویت سره فرانسویانو د جرمني بریدونو په وړاندې خپله دفاعي جګړه لا نوره ټېنګه او پیاوړي کړه. په دې جګړه کې دواړو خواوو ته لوی لوی ځاني او مالي زیانونه واوښتل.
د لومړي نړیوالي جګړې دغه شدیدترینه لس میاشتېنۍ جګړه ,, د ویرډون د وینو ژرندې او دوزخ,, په نامه د اروپا په تاریخ کې ثبته شوي ده. که څه هم جرمنیانو په 1916 کال د مۍ په میاشت کې یوه بله سیمه هم ونیوله، خو په دې دواړو محاذونو کې د جرمني سرتیرو د مرګ ژوبلو ابعاد د نورو جګړو په پرتله خورا لوړ ول. د همدې کال د جون په میاشت کې جرمني پوځیانو یو بل بریالی برید د فورټ ووکس په سیمه کې ترسره کړ، خو بیا هم دغه بریا یې ناکامه شوه. د جرمني پوځي مشرتابه او لوی درستېز مجبور شول، څو نور د جرمني پوځیانو ناکامو بریدونه ودروي. د جرمني پوځي مشرتابه د ویرډون په جګړه کې سخت تر فشار لاندې راغلي وو. په 1916 کال د ډسمبر په میاشت کې فرانسوي پوځي مشرتابه هم په وېرډون کې خپل بریدونه پرته له بریالیتوب پای ته ورسول.
په ویرډون کې د ډېرو مرګ ژوبلو او ډیرو وینو بهیدلو تجربې د لومړي نړیوالي جګړې یو انځور ښیې چې د څو مترو ساحې یا ځمکې نیولو لپاره په میاشتو میاشتو جګړه او په لسګونو زرو سرتیرو وژل کیدل، د اټکل لسو میاشتو جګړو ورسته د ویرډون ښار ته ټولې نږدې سیمې د جګړې ډګر، د سوځیدلو ځنګلونو، ویجاړو ځمکو او د ختو ډکو ژورو کندو کپرو یوه سوځیدلې سیمه او یوه ویجاړه شوي منظره تر اوسه په سترګو لیدل کیږي. دا ټول د لومړۍ نړیوالې جګړې وحشت، بې ماناتوب او لیونتوب ښیې.
د لومړي نړیوالي جګړې اقتصادي او سیاسي پایلې.
په لومړي نړیواله جګړه کې ښکېلو خواوو ته ستر ستر زیانونه واوښتل. په لومړي نړیواله جګړه کې شاوخوا نهه میلیونه پوځیانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. په دې شمېره کې دوه میلیونه جرمنیان، نږدې 1,5 میلیونه له اتریش او هنګري څخه، 1,8 میلیونو څخه ډېر له روسیې او 000 460 د ایټالیا سرتیرې شامل دي. نور تلفات 1,3 میلیونه فرانسوي او 750,000 برتانوي سرتیري دي. شاوخوا 117,000 امریکایي سرتېرې ووژل شول. د اکثرو ټپي شویو سرتېرو د مړینې لامل د زخمونو چرک یا ناو نیولو له امله وو. د لومړې جګړې په پای کې یوازې په جرمني کې شاوخوا 2,7 میلیونو جرمنیانو فزیکي او روحي رواني یا ذهني معلولیت درلوده.
په ټولېزه توګه د لومړی نړیوالي جګړې ښکېلو اړخونو په جګړه 956 مېلیارډه جرمني مارک پانګونه کړي وه. له دې شمېرې شاوخوا څلوېښت سلنه یوازې جرمني امپراتورۍ او لوی بریتانیا لګولي وې. د فرانسې د ویجاړو شویو سیمو بیارغونه شاوخوا 100 مېلیارډه فرانسوي فرانګ لګښت درلود. د لومړي نړیوالې جګړې سیاسي پایلې په روسیه، جرمني اتریش او ترکیه کې د سلطنتونو یا د پاچاهۍ د سقوط لامل شول. په 1917 کال کې د تزاري روسیې مشرانو واکمنۍ یا پاچا له واکه لیرې شو. په 1918 کال کې د جرمني امپراتورۍ دویم ویلهم هم له واکه ګوښه شو. له هغه ورسته په 1918 کال کې د اتریش امپراتور هم له واکه لیري شو. په 1922/1923 کلونو کې د ترکیې سلطنت د ترک ځوانانو انقلاب له لورې نسکور شو. په 1921 کال کې ایرلینډ له بریتانیا څخه جلا او یو خپلواک هیواد شو. سربېره پردې فنلینډ، پولینډ، استلینډ، لیټلنډ، او لیتونیا له روسیې جلا او خپلواک هیوادونه شول. هنګري او چکوسلواکیا له اتریش هنګري څخه خپلواک هیوادونه شول. د عثماني امپراتورۍ په خاوره کې اووه نوي هیوادونه راڅرګند شول. په 1917 کال کې د لومړۍ نړیوالۍ جګړې پر مهال د امریکا متحده ایالاتو د لومړی ځل لپاره د اروپا په سیاسي چارو کې لاسوهنه وکړه. امریکا له یوه لنډ مهاله شاتګ ورسته د دویمې نړیوالي په ترڅ کې د نازي جرمني پر وړاندې په بریا کې بیا خپل نړیوال حضور ثابت او څرګند کړ او د نړۍ یو ځواکمن زبر ځواک هیواد وګرځید. همدارنګه په اروپا کې ټوټالېټر یا مستبد فاشیتي رژیمونو رامنځته شول. د لومړي نړیوالې جګړې له امله د مستبدو او استبدادي رژیمونو راڅرګندیدو سره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په اروپا کې اقتصادي او سیاسي ګډوډي رامنځته شوه. په 1917 کال کې د روسیې سور انقلاب سره راپورته کړ. په 1922 کال کې بیا ایټالیا کې د موسولیني په مشرۍ فاشیتي رژیم سر راپورته کړ. په 1933 کال کې کله چې هیټلر په جرمني واک ترلاسه کړو، د جرمني عروج باندې مهر ولګول شوه، جرمني بیا د هیټلر په سر مشرۍ کې د دویمې نړیوالې جګړې لامل وګرځیدله.

پرته له شکه لومړۍ نړیوالې جګړې د اروپا د عصري کولو لاره نوره ګړندۍ او را لنډه کړه. خو لومړنۍ نړیواله جګړه د شلمې پیړۍ لومړنۍ خونړۍ ناروین و. دغه پیړۍ د سترو جګړو، د سترو وینو تویولو، د سترو تاوتریخوالو، د سترو بېسارو وحشتونو او د ملکي خلکو د سترو بې ځایه کیدولو پیړۍ وه. دې جګړې شاوخوا د 17 میلیونو سرتېرو او ملکی وګړو ژوند واخیست. د اروپا لویه برخه یې ویجاړه کړه او په پایله کې ناحل شوې ستونزې همداسې نا حل شوې په ځای پاتې شوې، چې نورو تاوتریخوالیو ته یې لاره هواره کړه او وده ورکړه. نه یوازې د دوېمې نړیوالې جګړې د و حشتناکو کړنو او جګړو لامل شوې، بلکې په شلمه پیړۍ کې فاشیزم او کمونیزم ایډیالوجي ته یې هم وده ورکړه او د ختیځ او لویدیځ ترمنځ د سیستماتیکي سیالۍ ډګر ته ورتګ د لومړۍ نړیوالې جګړې پرته په بل شي کې نشي تشریح او درک کیدلې.

په 1919 کال کې د پاریس (Versailles) د ورسځای سولې تړون د پاریس د سولې په کنفرانس کې د متحدینو او متفقینو لخوا لاسلیک شو. په 1918 کال کې که څه هم جګړه په پراخه کچه درول شوې وه، خو رسماً لومړۍ نړیوالې جګړې لا دوام درلود. په 1919 کال د جون په 28 مه نېټه د ورسځای د کنفرانسونو په تالار کې د ورسځای تړون لاسلیک کړ. اکثرو جرمني سفیرانو او استازو دغه تړون د سختو شرایطو وضع کولو له امله جرمني ته یو تحقیرونکي او ذلیلونکي تړون وبللو. دوی دغه تړون د سختو اعتراضونو په حالت کې لاسلیک کړ. دغه تړون 1920 کال کې د جنوري په لسمه نېټه نافذ شو.

په 1918 کال کې د نوامبر په یوولسمه نېټه لومړي نړیواله جګړه هغمعال پای ته ورسیده، کله چې د جرمني امپراتورۍ استازی ماتیاس هریځبرګر په مشرۍ د اوبند کمیسیون کې د پاریس په شمال کې د کمپیګن په ځنګل کې د اوبند تړون لاسلیک کړ.

په 1919 کال کې د جون په 28 مه نېټه د ورسځای تړون د 231 ارټیکل له مخې 26 هیوادونو یا متفقینو او نورو اړوندو دولتونو او قدرتونو د جرمني امپراتورۍ او د جرمني متحدین د لومړۍ نړیوالي نړیوالې جګړې مسوول وګڼل شول، ملامت ګڼل شول او د جګړې مسوولیت او خرامات یې په غاړه واخیستل.

د تاریخ په پاڼو کې ښایې داسې لیکلې شوي، چې جګړه پای ته ورسیده، پرته له دې چې د جګړو او جبهو په کرښو کوم بدلون رامنځ ته شوي وي. خو لومړۍ نړیواله جګړه پای ته ورسیده. د  1916 کال په پای کې د ویرډون د جګړې بیلاس دواړو خواو ته ټولټال 000 800 مړه او ټپیان پاتې شول. دا هغه څه چې د جرمني او فرانسي ترمنځ د میراثي دښمنۍ بنسټ ته لاره هواره کړه، خو بالاخره همدغه وژنې د پخلاینې سېمبول هغمعال وګرځیدلې، کله چې د 1984 کال د سپټمبر په 22 مه نېټه د ویرډون په سیمه کې د فرانسې ولسمشر فرانسوا میټرا او د جرمني چانسلر هیلموټ کوهل ترمنځ یو بل ته د یوې تاریخي شیبې او سیمبولیکې نښې په توګه د روغې جوړې او د دوستۍ لاس اوږد کړ.

په لویدیځ کې هېڅ نوي بله خبره نشته.

پاې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ